SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپریږی

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک مرکزی نشراتی ارگان

دریم کال شپږمه گڼه پرلپسې (۱۰۷) چهارشنبه ۱۳۷۶ هش کال سلواغه میاشتې (۲۱) ۱۹۹۸ میلادي کال فبروري (۱۵) ۱۴۱۸ هق کال شوال المکرم (۱۸)

تعرض هاي مليشه ها در ولسوالي تگاب، ولايت تخار و مربوطات قلعه ذال به شكست مواجه گرديد

يك تعرض عناصر شر و فساد در قريه بدرا و ولسوالي تگاب ولايت كاپيسا به نصرت الهي توسط مجاهدين اردوي اسلامي به شكست قطعي مواجه گرديد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد عناصر شر و فساد كه ميخواستند با يك تعرض ناكام زنده گي آرام و صلح آميز مردم قريه بدراو ولسوالي تگاب ولايت كاپيسا را نارام بسازد با مقاومت و پايمردي جزو تام هاي مجاهدين اردوي اسلامي و همكاري مردم مسلمان و متدين تگاب حمله دشمن به شكست مواجه گرديده و به مهاجمين تلفات و خساراتي وارد گرديد .

در نتيجه اين تعرض ناكام دشمن يكتن از قوماندانان آنها به نام سميع الله به هلاكت رسيده كه جسدش در ميدان جنگ باقي مانده و ۳ تن ديگر آنان بدست مجاهدين اردوي اسلامي اسير گرديد .

طبق يك خبر ديگر عناصر شر و فساد با استفاده از آتش بس يك جانبه كه از طرف امارت اسلامي نسبت حادثه دلخراش زمين لرزه اخير ولسوالي رستاق اعلان گرديده بود، تعرض به استقامت بنگي ولايت تخار و مربوطات قلعه ذال ولايت كندز انجام دادند كه به نصرت الهي و پايمردي جزوتامهاي اردوي اسلامي مستقر در آنجا به شكست قطعي مواجه شده و متحمل تلفات جاني و مالي زياد شدند.

خبر مي افزايد : كه از دشمن زبون تعداد از اجساد كشته گان شان با مقدار سلاحهاي مختلف النوع به جاي مانده است، در خبر آمده است كه يك تعداد از افراد دشمن به اسارت اردوي اسلامي در آمده است .

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .

(سورة المائدة)

به اساس هدايت عاليقدر امير المؤمنين يكباب مدرسه در ولايت غزني اعمار مي گردد

به اساس هدايت عاليقدر امير المؤمنين يكباب مدرسه ديني در ولايت غزني اعمار مي گردد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد در جلسه كه به همين ارتباط به اشتراك برخي از مسوولين امارت اسلامي افغانستان علما ، بزرگان و هيئت رهبري رياست معارف ولايت غزني داير گرديده بود در رابطه به كار اعمار مدرسه متذكره كه گنجايش پنجصد تن طالب العلم را دارا مي باشد صحبت هاي همه جانبه بعمل آمد .

همچنان طي اين جلسه كه تحت رياست محترم مولوي سعيد احمد «شهيد خيل» معين اداري وزارت معارف تدوير يافته بود محترم مولوي عبدالبصير بحيث آمر مدرسه محترم مولوي اختر

ص «٤»

عاليقدر امير المؤمنين سرپرست وزارت ماليه را به حضور پذيرفتند

عاليقدر امير المؤمنين به تاريخ ۲۳ دلو در دفتر كارش محترم ملا حاجي محمد احمدي سرپرست وزارت ماليه را بغرض ملاقات بحضور پذيرفتند .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد طي اين ملاقات مسايل سياسي ، اقتصادي كشور مورد بحث قرار گرفته ، عاليقدر امير المومنين در زمينه به سرپرست وزارت ماليه وظايف مشخص سپردند .

د افغانستان د اسلامي امارت د کانونو او صنايعو سرپرست وزير الحاج مولوي احمد جان د شريعت اوونيزي خبريال ته وويل :

د يونيکال د تيلو او گازو بين المللي شرکت د افغانستان د تيلو او گازو له ملي موسسي سره د گډ فعاليت لپاره دلچسپي ښکاره کړيده

د هيوادڊننه او بهر کي متخصصينو او فني کسانو مونږ ته په خپل وطن کي د خدمت داو راکړيدي

له کوم وخت نه چي مونږ د تيلو موسسه د دوهم ځل لپاره احيا کړله نو بر سيره پردي چي د هيواد او نړي په گوټ گوټ کي افغاني انجينرانو، پوهانو او په خاصه توگه د نفت او گازو په شعبو کي ماهرينو زمونږ سره تماسونه ونيول ځني نوري لويي بين المللي کمپني هم په حرکت راغللي او په افغانستان کي د نفتو او گازو د پوښتني او پلټني لپاره يي د افغانستان د تيلو ملي موسسي سره په گډه د کار کولو دلچسپي ښکاره کړه د هغوي له جملي ځخه يو هم د يونيکال د نفت او گازو بين المللي شرکت دي چي تيره ورځ يي يو فني هيئت کابل ته راستولي ؤ او د افغانستان د تيلو ملي موسسي سره يي د گډو فعاليت او همکاري په هکله پوره دلچسپي ښکاره کړه . او هغه راڀوروته يي وليدل چي پخوا جرمني، فرانسوي، برتانوي او روسي شرکتونو په گلوتو کلونو افغانستان کي د

څلورم مخ

امريکا د نړۍ د بداخلاقو خلکو د پناه ځاى گرځيدلي دی

واشنگټن (اي اين اين) د دنيا قوي طاقت د بد عمله خلکو لپاره د پناه ځاي شو . د امريکا حکومت په ۱۹۹٦ م کي د نړي بد اخلاقو ۱۱۰۰۰ تنه بد عمله وگړو ته امريکايي هويت ورکړيدي او ۲۵۰۰۰ هغه خلك يي چي قارمونه يي په غلطه جوړ کړي و هم منلي دي .

دآي اين ايس په حواله ويل شويدي د صدارتي انتخاباتو په وخت لس لکه غير ملکي خلکو ته هويت ورکړ شوي ؤ چي په هغه کښي ۲۰۰۰ نفرو خپل د جرم کاغذونه پټ کړي او ۵۰۰۰ خلك د جرم ريکاډ لري همدارنگه په دا نورو لس لکو

څلورم مخ

دچين دخفيه ايجنسي اودامريکا صدرکلنتن ترمنځ درابطواکشاف

واشنگټن (آي کي اي) ۱۹۹٦ م کال د امريکا د صدارتي انتخاباتو په دوران کښي بل کلنټن ته مرسته ورکونکي د اندونيزيا کروړ پتي مونچار ريدي او د هغه زوي جيمز او د چين د خفيه ايجنسي په منځ کښي د رابطي انکشاف زيات شويده د امريکا واشنگټن پست اخبار د امريکا د حکومتي شورا د امورو د کميټي په حواله خبر ورکړيده چي دا انکشاف (سي آي اي) او (ايف بي آي) د جاسوسي اطلاعاتو په بنا ورکړل شوي دي په خبر کښي ويل شويدي چي په کلنټن دا تور لگيدلي ده چي له چين سره يي کومه نرمي شروع کړيده هغه د «ريدي» له کبله وه

څلورم مخ

د بغلان ولايت دمرکزي جبهي د نظامي چارو مرستيال محترم محمدرفيق شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

مخالفين د خپلو ملېشو د مورال د لوړولو لپاره په تبليغاتي کمپاين لاس پوري کړی

د بغلان ولايت مجاهدين په حالاتو پوره کنترول لري او کولي شي چي د ضرورت په وخت کي له نورو ولاياتو سره هم بشري او نظامي مرسته وکړي

د شريعت خبريال د بغلان ولايت د مرکزي جبهي د نظامي چارو له مرستيال سره چي پدي وروستيو کي کابل او کندهار ته راغلي وو د سيمي د پوځي او اقتصادي حالاتو په اړه مرکه کړي چي سره لولويي .

پوښتنه : د بغلان په ولايت کي د عوامو سره د اسلامي امارت د مخالفينو چلند ځه ډول دي ؟

ځواب : د بغلان ولايت په هغو سيمو کي چي د اسلامي امارت د مخالفينو په لاس کي دي د ولسي خلکو ژوند له سخت گواښ سره مخ دي نه د چا مال ، ناموس ، عفت او سرخوندي دي او نه خو هم سکون او اطمينان لري. همدا وجه ده چي اکثره خلکو د اسلامي امارت تر ولکي لاندي سيمو ته د مهاجرت کړي تړلي دي او هره ورځ په لسگونو کړي دي خوا را اوړي .

پوښتنه : د بغلان په ولايت کي د خلکو اقتصادي وضع ځه ډول ده او د بازار نرخونه ځنگه دي ؟

ځواب : د بغلان ولايت اقتصادي وضع د انديښني وړ نه ده بغلان ته په

څلورم مخ

يکتعداد سلاح و مقاديري مهمات به مسؤولين ولسوالي ميزان ولايت زابل تسليم داده شد

يكتن از قوماندانان جهادي ولايت زابل به تاريخ ۲٤ دلو يكتعداد سلاح و مقاديري مهمات را به مسوولين ولسوالي ميزان آن ولايت تسليم نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : ملا محمد زمان يكتن از قوماندانان جهادي ولسوالي ميزان آن ولايت يك ميل دهشكه معه ٤٥ صندوق مرمي آن ، يك ضرب

ص «٤»

امريکا پخپله عراق ته کيمياوي وسلي ورکړي دي

د الجزاير د مسلمانانو په عام قتل کي د الجزاير د حکومت لاس دي

آيت الله «جنتي»

د ايران د ښنسټيز قانون د شورا سکرتر آيت الله جنتي په تهران کي د جمعي د لمانځه د خطبي په ترځ کي وويل : امريکايانو پخپله عراق ته کيمياوي وسلي ورکړي اوس چي له صدام حسين ځخه د هغو وسلو له کبله خپلي گټي په خطر کښيويني نو ځکه هغه وسلي بيرته غواړي .

نوموړي زياته کړه چي د ثبوت له مخي د الجزاير د مظلومو مسلمانانو په قتل عام کښي د الجزاير د حکومت لاس دي له همدي کبله نوموړي حکومت د اروپا د اتحاديي معاينه کوونکو ته اجازه نه ورکوي چي د واقعاتو پوره خبر واخلي او نړي ته يي وسپاري .

په موزمبيق کي د کولرا له امله ٤۰۰ تنه ووژل شول

په موزمبيق کي د هيضي (کولرا) له امله ٤۰۰ انسانان وژل شوي او ۲۰۰۰ تنه د سختي ناروغۍ سره مخ دي .

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي : ددي هيواد د روغتيا وزارت ويلي دي چي تر اوسه پوري دوي ددي وژونکي ناروغي په مخنيوي نه دي توانيدلي او د ډيرو انساني تلفاتو احتمال موجود دي ددي وزارت يو وياند ويلي دي چي په موزمبيق کي له تيرو شپږو مياشتو راهيسي دا ناروغتيا عامه شويده چي تراوسه پوري يي ٤۰۰ تنه وژلي او ۲۰۰۰ تنه يي له مرگوني حالت سره مخ کړيدي .

به خاطر گرامیداشت و اتحاف دعا به ارواح قربانیان زلزله اخیر در ولسوالی رستاق ولایت تخار گرد همایی ها در کابل و پشاور دایر گردید

ملا امامان ، خطبا و واعظان مساجد جامع شهر كابل در خطبه هاي نماز جمعه در رابطه به حادثه اسفبار زلزله در ولسوالي رستاق ولايت تخار صحبت نموده و آنرا يك آزمون بزرگ الهي خواندند .

خبرنگاران آژانس اطلاعاتي باختر از مساجد جامع شهر خبر دادند ملا امامان، خطبا و واعظان مساجد جامع شهر روز جمعه قبل از اداي نماز جمعه در رابطه به وقوع حادثه المناك زلزله كه چند روز

ص «٤»

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د نوي ملي اسلامي اردو جوړونه د افغانستان د اسلامي امارت ستره هيله ده

په تير وخت کي ولېدل شو چي په افغانستان کي د کمونستي رژيم د ړنگيدو او د اسلامي اداري اسلامي نظام د ټينگښت سره جوخت د تنظيمونو دبوي واحدي اداري او پروگرام د نه لرلو له امله د وسله والو کسانو له خوا د افغانستان پياوړي اردو تالا والا شوه، او هغه ځه چي د ډيرو کلونو را په ديخوا د اردو د يو بشپړ او هوسا ژوند په برخه کي سرته رسيدلي و له منځه ولاړل او د هغه لوژستيکي زيرمي چور شوي. د اردو عصري او پر مختللي تخنيك كباړ شو او د دفاع د وزارت په ځوکي داسي سړي کښينناست چي د اردو د چور او تالان مخه يي نيولي واي او په دغه ډول يي دغه قيمتي او نا پايه شتمني له غلو او داړه مارانو ځخه ساتلي واي د اسلامي نظام په ټنگ کي د اردو ځارني او د چور د مخنيوي په برخه کي داسي صالح او وطنپال پوځي مسلکي کسان چي ددغه کار دخطرناکو عواقبو مخه يي نيولي واي اردو ته نه ؤ

دوهم مخ

يو ځوان سړي خوړونکي ۹۰ کلن زوړ سړي وخوړ

نوي ډهلي (کي پي آی) د هندوستان د جبل پور له ښار ځخه ۱۰۰ کلومتره لري د نرسنگ پوره په ولسوالي د کريلي په کلي کښي ۲۲ کلن سړي خوړونکي ځوان يو ۹۰ کلن سړي «مرچند لودهي» مړ کړ او د هغه وينه يي وڅښله او د هغه زړه يي وخوړ چي بيا پوليسو گرفتار کړ . هغه په تحقيق کښي په همدغه خبره اعتراف کړيده چي مخکښي يي دري وزي او ځو نور حيوانات خوړلي دي . دا ځوان «رام نهارن چهان» نوميږي او د اتراپرديش د بهارپور د کلي اوسيدونکي ده . ځه وخت چي يي هغه ۹۰ کلن سړي مړ کړاوو خوړلو يي د هغه زوي پوليسو ته خبر ورکړ پوليسو په داسي حال کښي

څلورم مخ

به طول هشتاد و پنج كيلو متر سرك در ولايت زابل جغل اندازي و هموار گرديد

سرك قريه ماري الي ميان شين ولسوالي داي چوپان ولايت زابل به طول شصت كيلو متر جغل اندازي و سرك هاي چندين قريه ديگر اخيراً آماده استفاده گرديده است .

ص «٤»

هاليند ته د جنسي هوسونو د خړوبولو لپاره د بل کلنټن بلنه

د هاليند يو سياستوال له بل کلنټن نه غوښتني چي د خپلو جنسي هوسونو د خړوبولو لپاره په هاليند کي متنقله استوگنه غوره کړي، ځکه چي په هاليند کي د جنسي بيلاريو چه اړه هيڅ ډول بنديز نشته ، که ځه هم په امريکايي ټولنه کي هم دا ډول آزادي شته خو که د جمهور رئيس په اړه وروستي دوسيي ددغو آزاديو!! پر خلاف يو گواښ وبلل شي ښايي چي د ډيرو په نظر يي د

څلورم مخ

چين يو ځل بيا پر عراق د امريکي د پوځي بريد مخالفت وکړ

چين يو ځل بيا پر عراق د امريکي د برغل مخالفت وکړ په يوه رسمي اعلاميه کي د چين حکومت ځرگنده کړي ده که چيري امريکه پر عراق پوځي بريد وکړي د سيمي امنيت به له سخت گواښ سره مخامخ شي او د عراق بيگناه ولس چي لدي مخکي هم له راز راز ستونزو سره لاس او گريوان دي

څلورم مخ

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني، په پاکستان کي (۳) کلداري
آدرس : کابل وزیراکبر خان مینه/سرك ۱۱/ کور (۵۲۰)
ټیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع و شکایات ٦۲۸۵۹ پوست بکس: (٤۷۱)
په پیښور کي : دطالبانو نمایندګي ټیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤-۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
د دولتي مطبعي چاپ

د سرمقالي پاتي برخه

جذب شوي که چیرته د پخواني اردو د پرسونل، کدر او پوځي تخنیك تشکیل اوس مخي ته کیښودل شي نو بي له شکه په دي به باوري نشو چي د پوځي تخنیك په لحاظ د افغانستان پخواني اردو په دي سیمه کي یوه بیساري، پیاوړي اردو وه که چیرته پخواني اردو نه واي لوټ شوي او د اسلامي نظام په راتللو سره لا پیاوړي شوي واي نو په داډ سره ویل کیدلاي شي چي اوس به هیچا ددي توان نه درلود چي د افغانانو د پلارني هیواد په لور بد نظر وکړي او یا د افغانانو په کورنیو چارو کي لاس وهنه وکړي.

دا چي اوس د افغانستان اسلامي امارت د وسله وال پوځ د فتوحاتو په لړ کي بیا هم دا اړتیا احساس کړي ده او د وخت د اړتیا او غوښتني له مخي یي د ملي اسلامي اردو په بیا جوړونه پیل کړي دي دا یو پر ځاي او تاریخي اقدام دي دا ځکه هر هغه ملت چي په پوځي تخنیك او په عصري پوهني سمبال پوځ ونه لري هغه ملت هیڅ وخت خپل ملي او سیاسي هویت نه شي ثابتولي او هم د خپلي واکمني او آزادي څخه دفاع نه شي کولاي او په یوه جمله کي که ووایو چي: اردو د یو ملت په بدن کي د روح مثال لري - دا به په ځاي خبره وي د افغانستان خلك حق لري چي د خپلي آزادي او د ملي واکمني ساتني له پاره یوه پیاوړي اسلامي اردو ولري او دا هم حق لري چي د یوي سالمي، زړوري او مسلکي اسلامي اردو څښتنان شي او دا کار هله کیدلاي شي چي د پخوا په څیر د عسکري مکلفیت قانون تر لاس لاندي ونیول شي او اسلامي مواصفات له نظره ونه غورزول شي او په لومړي سر کي یوه سالمه هسته را منځته شي او پدي لړکي صالحو او متدینو افسرانو او افرادو په جلب او جذب کي د افسرانو او افرادو روغتیایي، اجتماعي، اخلاقي، مسلکي پوهي او نوري خواوي په پوره ډول مطالعه شي دا ځکه چي په هیواد کي دوامداره جګړه ددي سبب شویده چي زمونږ د ځوانانو روغتیایي، اجتماعي او اخلاقي اړخونه په سالمه توګه پري نه ږدي. نو که خداي نا خواسته په دغه برخه کي دقت ونه شي نو کیدي شي چي د سالمي اردو په ځاي نا سالمه او غیر اخلاقي اردو را منځته شي چي په دغه صورت کي به د ګټي په ځاي داسي زیانونه را منځته شي چي د هغي بیرته جبیره کول به زیات وخت وغواړي. د افغانستان اسلامي امارت ته په دغه ملي او اسلامي کار کي لا زیات بریالیتوب غواړو. د یوي پوره سالمي، وياړلي اسلامي او ملي اردو د جوړیدو په هیله.

شریف بدماشان !!

د پاکستان په پلازمینه اسلام آباد کي د کشمیر له جهاد سره د پیوستون په لاریون کي د وو ګنګپانو د دوو وزیرانو جیبونه ووهل. په خبر کي ویل شوي چي په لاریون کي د ځینو نورو شخصیتونو جیبونههم وهل شوي دي.

د وفاقي وزیر له جیب نه چي ګڼ کپ کومه بټوه ایستلي په هغه کي له پیسو پرته د وزیر ځیني مهم اسناد او یاد داشتونه هم ؤ. له همدي ځایه ده چي وزیر په مطبوعاتو کي دا خبره اعلان کړه چي که ګڼ کپ ورسره دغه شرافت وکړي چي اسناد او یاداشتونه یي وروسپاري نو پیسي بي د مورشیدي شه - وزیر دانه دي ویلي چي په بټوه کي بي څومره پیسي وي چي ده ورته د مور د پیو په څیر حلالي ګڼلي دي خو سړي اټکل کولي شي چي د مرکزي وزیر په بټوه کي به څومره پیسي وي، وزیر صاحب د حاتم طایي سخاوت کوي چي د بټوي پیسي د جیب وهونکي د مور شیدي ګڼي نه د سر په صدقه، خیرات او زکوة کي شمیر - خو له یوه جیب وهونکي نه د شرافت توقع یا ورته د شرافت سند ورکول د خوش باوري انتها ګڼل کیږي.

وایي چي شریف بدمعاشان هم شته، تر دي نامه لاندي ډیر پخوا یو هندي فلم نژدي یو کال د کابل په سینماګانو کي چلیده او خلکو ته یي د شریفي بدمعاشي چلونه ښودل، د شریفي بدمعاشي د تصویر یو مخ دا دي چي له پانګوالو او شتمنو مال او پیسي په زور او غلا تر ګوتو کوي او بیوزلو ته یي ورکوي.

مرحوم استاد خلیلي په «عیاري از خراسان» کي امیر حبیب الله خادم دین رسول الله (د سقاو زوي) د همداسي عیارانو مخکښ ګڼلي. د شریفي بدمعاشي یو باټ دا هم کیداي شي چي د ظاهري سفید پوشه او معصومي څیري تر پردي لاندي داسي څه پټ وي چي له خلکو غټیه ټکس اخلي.

سړي ته ددغه ظاهري سفید پوشه او معصومي څیري خو باطني بدمعاش حقیقت یو کردار استاد رباني ښکاره شي چي په لیدو یي فکر کیږي له ځان نه به مچان هم نشي

شړلي خو په واقعیت کي ولیدل شوه چي د ډیر سترو بدمعاشانو سرونه یي ګرولي دي.

په لاریون کي یو بل ګڼ کپ چي د اطلاعاتو وزیر سید مشاهد حسین د جیب شوق کړي ؤ د وزیر صاحب له خوا ځاي پر ځاي ونیول شو، پدي توګه ښاغلي مشاهد حسین دا ثابته کړه چي له ګڼ ګپ او پولیس دواړونه زیات ماهر دي.

معلومه نه ده چي دغه ګنګپان حرفوي جیب وهونکي دي که د صاحبانو د دفترونو نژدي افراد چي په لاریون کي ښه جوخت او ډاډه ورسره روان وي ښاغلي مشاهد حسین په مطبوعاتي ټړي کي تر ټولو بحث بر انګیز او د چا خبره د ماکه خیز نقش لرلي دي کله چي

ویل: بیرك غبي، بي استعداده، وارخطا او نامطمئن سړي ؤ چي هیڅ کشش یي نه درلود، د ساړه او خشن مزاج خاوند ؤ خو نجیب ساحرانه چلند درلود ذهین سړي ؤ او د ګرم او دوستانه پیش آمد مظاهره یي کوله.

د آغا صاحب یوه بله مطبوعاتي دماکه کومه چي له مسلم ورځپاڼي دده پر استعفا منتج شوه هغه له مشهور سائنس پوه ښاغلي عبدالقدیر خان کره دیوه مشهور هندوستاني خبر لوڅ کلدیپ نیز بیول ؤ چي ده د خپل واده د کارت ورلو پر مهال له ځان سره مل او عبدالقدیر خان ته یي خپل شخصي او نژدي انډیوال معرفي کړي ؤ. له یوي او بلي خوانه یي په بڼهار کي د هغه له خولي دغه خبري او اعتراف تفصیل تر لاسه کړي ؤ چي پاکستان اتومي ځواك او یا په بله وینا بمونه لري...

هندوستان ته د کلدیپ نیر په رسیدو مطبوعاتو د عبدالقدیر خان څرګندوني په شور

دي د مسلم انګریزي ورځپاڼي ایډیټر ؤ پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغل وروسته لومړني ژورنالست ؤ چي کابل ته ولاړ او له ببرك کارمل سره یي لیږوونکي مرکه وکړه چي د پاکستان مطبوعات او حساسي اداري یي د دوي په وینا په شش او پنج کي واچولي دغه وړ ده له نجیب سره هم د لومړني پاکستاني خبر لوڅ په توګه مرکه وکړه چي په ورځو ورځو یي مطبوعات او سیاستوال مصروف ساتلي وو.

پدي اړه ما هماغه وخت د اسلام آباد په کپیټل هوټل کي د یوه سیمینار د چاي څښلو په وقفه کي تري وپوښتل آغا صاحب! تاسي کارمل او نجیب دواړه ولیدل، مرکي مو ورسره وکړي او د چا خبره سوال پیچ مو کړل، د دوي تر منځ مو څه توپیرونه وموندل؟ ویي

او زور خبري کړي او یوه لویه غوغا او جنجال یي را منځ ته کړ چي د امریکي پریسلر هم پري ورګډ شو، خپله آغا صاحب یي هم له ډیرو ګوتنیوتو او تورونو سره مخامخ او استعفا ته اړ کړ.

خو وروسته څرګنده شوه چي دا کار ده آګاهانه، مصلحتاً او د ملي ګټو د ایجاب له مخي کړي ؤ، معنا دا چي ده قصداً غوښتل د ډیرو پټو اسرارو صحنه بیلهٔدي چي څه تصنع ټکي ولیدل شي په ډیر ماهرانه انداز هندي خبر لوڅ ته وښيي پدي توګه هندوستان و ویروي او ورته ثابته کړي چي پاکستان په رښتیا سره اټومي انرژي لري... چي بیا وروسته ورته د ژورنالستیکي ډیپلوماسي نوم ورکړ شو، همداسي مرحوم جنرال ضیا الحق د

کرکټ ډیپلوماسي په چلولو سره په هغه حساس او ټاکونکي مهال کي د راجیو ګاندي د جارحانه عزایمو مخه ونیوله، مطلب دا چي ډیپلوماسي که د کرکټ وي که د ژورنالیزم د اکمال لري چي د جګړي اورته د اوبو او تیلو دواړو کار ورکړي

وایي چي یو خوش چانسه جیب وهونکي د امان الله خان په واکمني کي د مستوفي الممالك جیب ته لاس وغزاوه خو هغه لکه مشاهد حسین سملاسي دده لاس پخپل جیب کي ونیوه او ورسره یي روان کړ، د جیب وهونکي زړه ډبیده چي اوس به یي غرغره کوي که به یي د جیل د تورو تمبو شاته اچوي خو دفتر ته په رسیدو مستوفي الممالك ورته وویل: آفرین ته ډیر زړور او بهادر سړي یي چي د یوه تراوستر شخصیت د جیب وهلو زړه‌دي کړي، ددغه جرأت په مقابل کي څه انعام غواړي؟ د جیب وهونکي خوله خبرو ته نه جوړیده خو هغه سملاسي حاکم وټاکه.

معلومه نه ده چي آغا صاحب به هم له جیب وهونکي سره د مستوفي الممالك چلند کړي وي که څنګه؟ خو که جیب وهونکي د شریفي بدمعاشي دعوه وکړي او ددغه جرم انګیزه شریفانه وګڼي ممکن محکمه یي معاف کړي. د افغانستان د جمهوریت په اساسي قانون کي یوه ماده داسي وه چي هغه جرم چي شریفانه انګیزه ولري باید په جزا کي یي تخفیف او مرعات وشي، مرحوم داؤد خان چي په اووني کي به یي دوه ځله د کمیسیون د غړو له خولي د اساسي قانون مسوده اوریده د دغه مادي په اړه د توضیحاتو غوښتنه وکړه کمیسیون ورته وویل: لکه ستاسي سپینه کودتا چي که څه هم د وخت د قانون او نظام له مخي جرم ګڼل کیده خو څرنګه چي ستاسي ددغه عمل انګیزه شریفانه او د وطن خدمت ؤ نو...

د مرحوم داؤد خان ځواب دا ؤ چي: دا ستاسي کار دي خو که څوك زما پر ضد پاڅیږي که انګیزه یي هر څه وي زه به یي یوه لحظه هم پري نږدم، زه پوهیږم که هغوي بریالي شي ما به هم یوه لحظه ژوندي پرینږدي، دده د خبري دوهمه برخه رښتیا شوه خو د لومړني برخي په اړه ولیدل شوه چي ده د خلق او پرچم مشران یوه لحظه نه خو ورځي پري ایښي وو.

پتي پاڼي

شهرت ننګیال

امیر المؤمنین و بیت المال

در نزد فاطمه (همسر امیر المؤمنین عمر بن عبدالعزیز) یك نگین بود که آنرا عبدالملك پدر موصوفه برایش اعطا نموده بود– گمان میرفت که از بیت المال باشد – خلیفه اسلام حضرت امیر المؤمنین رو بطرف فاطمه (خانم) خود نموده گفتند: "ترا از دو سخن دریکي اختیار است یا این انگشتري را به بیت المال تسلیم نمائید، و یا براي جدایي از من خویشتن را آماده سازید" بي بي نیك سیرت و اطاعت شعار بدون درنگ و گفتگو آن انگشتر قیمت بها را حواله بیت المال نمود.

دوي ضروري روڼاوي !

محترم ولي احمد فرهاد له امریکي لاندي لیکنه رالیږلي چي موږ کټ مټ خپره کړو که په دي اړه نور لیکوال او لوستونکي څه نظر لري شریعت به یي لهراوسیدوسره سم خپور کړي.

د شریعت جریده امریکي ته راځي که څه هم لږ ځنډ وي او خبرونه مو اوریدلي وي خو مضامین او اشعار ځنډن نه وي.

د شریعت په څلور څلویښتمه ګڼه کي د «پټ مکر» تر عنوان لاندي د شهرت ننګیال یو مضمون ؤ په هغه کي د افغاني الاصل امریکائیانو ذکر ؤ.

د شهرت ننګیال شفرنامه دومره ښه وه چي د هر چا د ستاینې وړ، کره معلومات یي درلودل یل سه والي یي دا ؤ چي په آزاد څیر لیکل شوي ؤ. خو د افغاني الاصل امریکائیان کیسه داسي ده: یو مهال تر پنځو سو ډیر افغانان نه ؤ، یو څو کسو تابعیت اخستي ؤ چه همانه افغاني الاصل امریکائیان ؤ. بیا د جهاد کلونکي خبره زرګونو ته ورسیده بیا هم لږ افغانانو د مجبوریت له مخي تابعیت اخیستنه لکه په دولتي موسسو کي کار کول او نور... ما چه لیدل د تابعیت د ورقي اخستلو په موقع یي ژړل او کله چي روسان ووتل د نجیب حکومت هم نسکور شو ډیر افغانان بیرته تلو ته تلوسه وکړه چه د رباني مسعود پنجي خښي شوي نو ډیرو خلکو تابعیت واخست بیا یي خندل او نه یي ژړل.

بیا هم سپین ږیرو ویل د عمر څو شپي پاتي دي تابعیت څه کوو؟ پروسږ کال قانون واوښت «حوان چي تابعیت نه لري مرستنه نه ورکول کیږي» په یوه راډیو کي یوه سړي پوښتنه وکړه، چي سپین ږیري سپین

سړي کار نه شي کولاي دوي څه وکړي؟ هغه په ځواب کي وویل خانونه دي ووژني! یا به دومره انګلیسي زده کوي چي د تابعیت امتحان ورکړي په دي کي له روسیي مهاجر شوي یهودانو مظاهره وکړه چي موږ په اوبا اتیا کلني کي انګلیسي نه شو زده کولاي وروسته له هغه قانون معطل شو مګر په میلیونو نورو چي د انګلیسي مشکل یي نه درلود د تابعیت درخواستي ورکړي وؤ په دي کي یو شمیر افغانانان هم ؤ چي هغوي د لوږي له ویري تابعیت وغوښت نو دري ډوله تابعیت شو شوقي، مجبوري او د لوږي ویره

چا چي عمر جایداد تقاعد او هر څه یي له لاسه ورکړي ؤ. مطلب د چي شهرت ننګیال غوندي محقق له پاره یوه توضیح وه.

نام افغانستان گهي خراسان نبوده است نگاهي بعنوان«سیرتحول‌خاتقاوپیدایش‌آن»

تتبع و نگارش مهر الله دردمند، در حالیکه سایر مطالب آن خواندني و مفید است اما این عبارت: خراسان قدیم (سرزمین باستاني افغانستان امروز یك قسمت بزرگ شرق ایران و یك تعداد بلاد سرزمین ماوراالنهر چون بخارا، ثمرقند مرو وخوارزم و غیره)

تاریخ چنین چیزي به خاطر ندارد اگر چه برخي از مورخین ما به این اشتباه بوده اند. قبل از

توضیح ذکر دسیسه خراسان بازي ضروري است در گرماگرم جهاد زمزمه خراسان بلند گشت، شاعر دربار محمد ظاهر شاه خلیلي الله «خلیلي» یك کتاب نوشت زیر عنوان «عیاري از خراسان» در عنوان دو غلطي بود یعني نخست اینجا خراسان نبود افغانستان بود و دیگر اینکه بچه سقو عیار نبود.

عیاري و جوانمردي که عربي آن فتي است از خود اصول و روشهاي دارد. چنانچه شاعري در وصف احمد شاه بابا میگوید: اختر برج شرف، گوهر بحر فتوت

شه شهان جهان احمد شاه والا تبار

احمد شاه بابا به گوهر جوانمردي ستوده شده است. اما خراسان بازي دوام کرد یك دوکشور زبان فارسي کتابي بنام اشك خراسان نوشت، نامه خراساني در امریکا نشر شد. کمپ خراسان در پشاور ساخته شد رستورانت خراسان، قالین فروشي خراسان... بالاخره به خراسان خوش آمدي در دره سالنگ. رفسنجاني رئیس جمهور ایران در اجتماعي شیعیان افغان در ایران گفت: نام افغانستان باید از تمام مردم افغان نماینده گي کند، یعني افغانستان نمي کند و خراسان مي کند- نگارنده در مجله آینه افغانستان نوشت که نام افغانستان گاهي خراسان نبوده است مدیر مجله ښاغلي هاشمیان از سایر نویسنده گان خواست تا در موضع اظهار نظر کنند از جمله سید قاسم رشتیا نوشت که موضوع نیاز به مطالعه مزید دارد اما نگفت که خراسان نام افغانستان بود.

دلایل این مدعي زیاد است قرار نوشته هیرودت کائیه، ساکتان، پاکتر پاکت، پاکتر پاکت پکتي پاکتیا که پارسیان را از کشور راندند کوروش را کشتند

مسلم اینکه زابلستان کابلستان، خضرتخزنم پوابستان‌غورنام‌کشوربوده‌است.

نگارنده حاضر است سه وار از شش هزار سال قبل به توضیح پردازد اما خراسان یك ولایت افغانستان است که در دوره هاي صفا ریان، غزنویان، غوریان ابدالیان جز، خاك ما در بعد از اسلام بود تا اوایل قرن نزده

زمونږ ګران هیواد

ولي احمد «فرهاد» له امریکا څخه



په دي کي شك نشته چه زمونږ ګران هیواد افغانستان په تیرو شلو کلو کي ډیر ژوبل شوي دي، خو د خداي تعالي بښګڼه ورسره ده چي بیا دا هیلي ژوندي شوي چي راتلونکي افغانستان به تر پخوا ډیر ښه وي.

ددغي ادعا نښي نښاني همدا اوس لیدل کیږي، لویه خبره دا ده چه نن نه یوازي د پخواني شوروي اتحاد لښکري، مشاورین او مزدوران په هیواد کي نشته بلکه روسیه زمونږ ګاونډي هم نه دي یوازي د شمال جنبش په شمال کي د پخواني کمونستانو له ډلي پاتي دي. په حقیقت کي د «لوبي لوبي» لوبغاړي (روس، انګلیس) له ډګره وتلي دي او را څرمه نه دي د مینځني آسیا هیوادونه داده نه دي چي له روسانو خلاص شوي وي د دوي ویره دا ده چي ښایي روسان بیرته د دوي هیوادونه په یوه چل ونیسي حتي ښایي بیرته کمونستي شي نو د دوي هڅه دا ده چي ژرخپلو جنوبي هیوادو، غرب او عربستان سره اړیکي ټینګي کړي.

که څه هم د طالبانو مخالفین، طالبان په دي تورنوي چه له پاکستان، عربستان او بالاخره امریکي سره اړیکي لري خو پخپله هغه کوي له دغو هیوادو سره اړیکي ولري په مسکو کي د ۱۹۹۷ اپریل په شلمه د پخواني شوروي اتحاد د کمونست ګوند خپله ګنګره جوړه کړه دا له ۱۹۹۳ څخه وروسته لومړي ځل دي چه د کمونست ګوند لویه غونډه وه په دي لویه غونډه کي د ستالین ستاینه وشوه او د بلوروسیه اتحاد یي د شوروي اتحاد د بیا ژوندي کولو نښه وبلله، د بي بي سي په خبر کي راغلي چي اوس هم د روسیي په پارلمان کي کمونستان اکثریت لري سر بیره پر هغه چه د پخواني شوروي اتحادیه جمهوریتو کي کمونستان پر قدرت باندي دي

د روسیي او ایران انډیوالي په نولسمه پیړي کي د هرات په نیولو کي وه یعني دا چه د هیوادونو ځمکني سیاست په رژیمونو پوري اړه نه لري هر رژیم چه وي هغه ته دوام ورکوي افغانستان باید تل له روسیي او ایران سره احتیاط وکړي چي د غه دواړه هیوادونه په ځمکني سیاست کي یو شاني عمل کوي.

روسیه تل غواړي تودو او بوته ورسیږي ایران - افغانستان، شرقي ایران بولي ټول هغه تاریخي ادبي او علمي شخصیتونه او ګڼیونه چي ایران خپل تاریخ د هغه پر بنیاد بیانوي هغه په افغانستان کي دي یعقوب صفار، طاهر فوشنجي، حنظله بادغیسي، خواجه عبدالله، غوریان غزنویان هر څه خپل ګڼي، هندوستان تر هندوکش غره خپله خاوره بولي نو زمونږ د ګران هیواد افغانستان په برخه کي د روس ایران او هندوستان سیاست همدا دي چي افغانستان د نړي له نقشي وایستل شي مګر دا پخپله افغانان دي چي د خپل هیواد د ساتني دپاره قرباني ورکوي په اتلسمه پیړي کي لومړي میرویس نیکه بیا احمد شاه بابا د افغانستان خاوره تامین کړه اوس بي ساتنه زمونږ وظیفه ده که موږ خپله دغه دنده تر سره نه کړو راتلونکي نسل به موږ بي همته وبولي، په داسي حالاتو کي پاکستان په افغانستان کي د ځمکي دعوي نه

لري او ډیره ادعا به یي یو دوست دولت وي، عربستان له موږه لیري دي امریکا هم.

ایران پنځه دیرش واري زمونږ پر خوا دا نګلي دي، د جنګ په دوران کي یي ځانونه غازیان بللي دي.

د ځمکني سیاست له مخي افغانستان بویه چي خپل حساس موقعیت په ډیره هوښیاري وساتي دا چي نن روسیه، ایران او هند د سیمي د سیاست په برخه کي سره ملګري دي دا د تعجب خبره نه ده هر کله چي موږ کمزوري شو دوي خپل کار کوي د افغانستان اسلامي دولت د امیر المؤمنین تر مشري لاندي چي کوم سیاست پر مخ بیایي په کورني او بهرني لحاظ سم دي.

په امریکي کي یو شمیر افغانان د طالبانو پلوي کوي په دي کي شخصي هیڅ ګټه نه ویني مګر ملي ګټي په کي ویني، د مثال په توګه دوي امریکایي ژوند کوي په قومي توګه هم ورسره اړیکي نه لري، مادي ګټي هم نه لټوي خو یوه خبره هرومرو غواړي چي د خلکو د ځان، مال او ناموس خوندي پاتي کیدل دي د فقراو لوري د جهل او بیسوادي له منځه تلل د هیواد کلتور تاریخ او استقلال ساتل.

هغوي وایي موږ چي دلته هوساینه کور، موټر او ډول ډول نعمتونه شته خو زړه مو خپه وي چي له خپله ځانه سوال وکړو ولي؟ زمونږ پریشاني له هغه پلوه وي کله چي ښه‌خبرونه‌اوروطبع‌مونه وي.

هغه واړه ماشومان چي دلته لوي شوي هغوي ځني واقعیتونه په دغه ټولنه کي ویني (اخلاقي، اجتماعي) بیا فکر کوي چي زه څوك یم؟ مسلمان افغان یم بیا کتابونه ګوري او د افغانستان په باب ښي خبري لټوي - پر دغه نوي نسل خلاف د هغه چي فکر کیده وطن ډیر ګران دي کله چي په تلویزیون کي افغانستان ښیي یو بل ته تلفون‌کوي‌چي‌دغه چینل کي‌افغانستان‌ښیي. د هیواد څه مینه ده؟ هغه خري کونګي واګونه مو یادیږي، خره کي طالبان ګوري چي ښکته پورته ګڼلي د دوي له نوراني مخونو خندا څخه خوند اخلي ویاړي چي دا دي زمونږ خلك چي دین او وطن رانه ساتي خپل مشران پیژني د امیر المؤمنین نوم چي واوري ښه پام کوي چي ملا صاحب څه ویلي دي؟

البته داسي افغانان هم شته چي بد او رد وایي ماشومان یي هم حیران دي چي له موږ نه مور و پلار هیله امید اخلي او کله د خپلو مشرانو، نه اوري او د طالبانو پلوي کوي.

د شمال د دسیسي پلویان د ستانورانو په کوټو ګرځي او هغوي د دوي بد الفاظ چه اوري څوروړي دوي د کلام عفت نه لري د قلم هم، په اخبار کي وحشي، حیوان او داسي کلمات راوړي چي موږ سخت خواشیني کړي او وایو چي د اووروي به څنګه بیرته جوړه شي؟ چي تاسو د هیواد ټول مشران پریږدي او ډیر د یو مشران یادوي.

د ځوانانو

د اختصاصي صفحي د خپريدو انګيزه

هره ورځپاڼه، جريده او يا خپرونه د يوه باغ حيثيت لري. او په عين وخت کي هره خپرونه چي راوزي او د لوستونکو ګوتو ته ورځي د يوه مکتب بڼه لري، د شريعت اوونيزي په هسدي شکل پريکړه وکړه چي عجالتاً په هره مياشت کي د ځوانانو او تنکيو ځوانانو د سرګرمي او د هغوي د عمومي او افاقي معلوماتو د سطحي د لوړولو دپاره يو لړ تربيتي، اخلاقي، علمي او اطلاعاتي مطالب نشر ته وسپاري . د طالبانو د اسلامي تحريك نشراتي ارګان د شريعت اوونيزه عقيده لري چي د ځوانانو دپاره يوازي څو پاڼي د مکتبونو د درسونو تعقيب کافي نه ده او ځوان نسل، وطن او خلکو ته د زياتو خدمتونو د سرته رسولو دپاره د ژوند تر پايه پوري زده کړه وکړي او د خپل چاپيريال د غوره او ګټورو شيزونو څخه پند او نتيجه واخلي .

په اوس وخت کي چي زموږ نړي هره ورځ د فساد او شيطاني اعمالو خواته مخ په وړاندي درومي واقعاً د ځوان نسل اخلاقي او حياتي روزني ته زياته اړتيا ليدله کيږي خداي «ج» دي وکړي چي د «شريعت» د خپروني له لاري د ځوانانو د اختصاصي صفحي په پيل کيدو سره ددغي خپروني په عادي نشراتي خدمتونو کي يو ګټور ګام اخستل شوي وي . د شريعت اوونيزه ټينګ باور لري چي قدرمن لوستونکي او د قلم خاوندان، ژورنالستان ، ليکوالان او روښانفکران د مقالو، مطالبو او مضمونونو په راليږلو سره د ځوانانو دغه اختصاصي مخ لا پسي ښه کړي او دا هيله هم کوو چي ګران او قدرمن لوستونکي او مينه وال د پيشنهادونو او انتقادونو په راليږلو سره ددي صفحي په لا ښايي کولو کي مرسته وکړي او موږ يوازي پرينږدي .

و من الله التوفيق

د نن ځوانان د سبا مشرات

صفحه اختصاصی جوانان

تربیت چیست؟

تربیت عبارت است از اعمالي که موجب تجلي شخصیت انسان گردیده و نمایانگر اوضاع عقلي و ادبي انسان بشمار میرود. تربیت سالم ، انسان را مورد توجه و احترام افراد جامعه قرار میدهد . این تربیت درست و نادرست است که فردي را خادم بشریت و فرد دیگري را خائن به حیات بشر و سد راه پیشرفت و سعادت مادي و معنوي ببار مي آورد.

افکار و اعمال هر جوان بستگي به اجتماع او دارد که در آن زنده گي میکند هرگاه اجتماعي سالم و صحیح باشد و محیط براي رشد استعداد هاي مادي و معنوي جوانان آماده شده باشد، یقیناً جوانان آن اجتماع سالم و مطابق شرایط و ایجابات آن جامعه بار مي آیند و در صورت بر عکس نتیجه منفي و نادرست خواهد بود. هر جوان در میدان فعالیت، قشر نیرومند جامعه خود است ، هرگاه جوان در خانواده و محیط زیست سالم و با تربیت رشد و نمو کند بدون شك خصوصیات اخلاقي، اعمال و جهان بیني او سالم،صالح،مترقي و متناسب با تقاضا و نیازمندي هاي محیط او خواهد بود، فلاسفه و دانشمندان میگویند : هر جوان و یا خورد سال میتواند در جامعه مورد توجه و احترام واقع گردد. در یك اجتماع که صداقت و خیانت را پاداش میدهند میتوان با انجام خدمات صادقانه مورد توجه و احترام افراد قرار گرفت تربیت سالم را در عمل پیاده نمود. با تربیت سالم جوانان میتوانند به شهر و محیط زیست خویش سودمند و مفید ببار آیند. سوال اینست که چگونه میتوان مفید و سودمند بود؟ سودمند و مفید بودن جوانان نتیجه اعمالي است که آنرا انجام میدهند، فایده رسانیدن بمردم گاهي جنبه مادي و زماني هم جنبه معنوي داشته است .

کتابتونونه : د ځوانانو د روزني د مدرسو په توګه

محلي او عامه کتابتونونه هماغسي چي د يوي ټولني د عامه وګړو د علم او پوهي د زده کړي د پاره ستره زيرمه او منبع ګڼله کيږي د ځوان نسل د تعليماتو او روزني دپاره د يوي مدرسي حيثيت لري ځوانان کولاي شي چي پخپل کور کلي او ښار کي ځانته ځانګړي کتابخانه جوړه کړي او دا کار نه دومره زيانه پانګه غواړي او نه د هغه په تر سره کولو کي زيات وخت لګيږي په کور او هستوګنځي کي همدومره کافي ده چي ځوان د زده کړي په موده کي او يا له هغه څخه وروسته په خپل انګړ کي يوه کوچني خونه او يا د يوي خوني يوه ګوښه جلا او رابطه کاندي په اول ګام کي څو تعليمي کتابونه او ټوټونه په کي ځاي په ځاي کړي او بيا وروسته کتابچي، قرطاسيه باب او تعليمي کتابونه په کي کيږدي . د کتابخانې کوټه بايد په يوه ګوښه ځاي کي جوړه شي په کافي اندازه لمر ولري او د ماشومانو څخه ليري وي . د مالي توان له مخي په کتابتون کي د يوي څوکي دوه ، دري الماريو او يو ميز ځاي په ځاي کول لازم او ضروري دي. دغه راز د کتابتون د ښاي کولو دپاره ځوانان بايد په هره مياشت کي څو ټوکه کتابونه په کي زيات کړي . ځوانان په کتاب او مطالعه کولو کي د زيات قدرت د لاسته راوړلو دپاره بايد سيمينارونو، کنفرانسونو او کورسونو کي ګډون وکاندي او هم په ورځپاڼو، مجلو او جريدو کي اشتراك ولري. د ځوانانو کوچني، متخني او حتي لوي کتابتونونه د شخصي تحقيق او ريسرچ دپاره ګټهور دي او همدارنګه د درسي مشکلاتو په اواري کي د کتابخاني څخه پوره استفاده کيداي شي . ځوانان بايد د خپلي کتابخاني مواد تصنيف کړي او د کتابونو د هري ګټهګوري دپاره ځانګړي لستونه او فهرستونه موجود وي . دغه کار د مطالعه کوونکي سره د لازمو کتابونو په موندلو او ژر پيدا کولو کي لويه مرسته کوي . ځوانان بايد د ولږه ايزو خپرونو د لوستلو نه وروسته کلکسيونونه جوړ کړي او په خوندي ځاي کي يي وساتي .

د ځوانانو شخصي کتابتونونه کيداي شي چي د کور، کلي او ښار د نورو وګړو د استفادې وړ هم وګرزي، د مثال په توګه د مربوط کلي او ښار د ښوونځي زده کوونکي، معلمان، د جوماتو ملا امامان او نور روښانفکران د يوي ټاکلي مودي دپاره د کتابتون له کتابونو او موادو څخه ګټه واخلي ځوانان د خپل اخلاقي مکلفيت له مخي بايد هڅه وکړي چي په خپل کلي او کورکي د ماشومانو دپاره هم کتابخانه جوړه کړي او هم د کتابتون له چارو سره د ماشومانو د اشنا کولو دپاره غوره امکانات او په زړه پوري زميني برابري کړي. حتي ځوانان او حتي که مبالغه ونشي په سلو کي ۸۰ يي د ښوونځيو او تعليمي مرکزونو څخه له فراغت وروسته د کتاب او مطالعي سره خپل مناسبات او اړيکي شلوي او بيا د عمر تر پايه پوري څه د دولتي ماموريت په دوران کي او څه د تقاعد په موده کي د کتاب او مطالعي سره هيڅ اړيکي نه شي پيدا کولاي په دغه راز يوي وضع کي کتابتون يوازني وسيله ده چي کولاي شي د کتاب او فرهنګ سره د يوه ځوان رابطه ټينګه کړي .

زموږ په ټولنه کي زياتره روښانفکران او څيرونکي کولاي شي چي د خپلو افغاني کتابونو او ثقافتي شيانو يوه برخه د خپل کلي، کور او ښار ګوټي د محلي او ښاري کتابتونونو د پانګي د زياتولو دپاره اهدأ کړي او په تيره بيا هغه ځوانان او څيرونکي چي د تقاعد دوري ته ور داخليږي په دغه خيريه کار کي پوره ونډه اخستي شي. همدارنګه ملي سوداګر او خصوصي پانګه لرونکي هم د خپلو نورو ګټهورو او عام المنفعه کارونو په لړ کي د ځوانانو د کتابتونونو د پياوړتيا سره مرسته کولاي شي . د ځوانانو رسالت يوازي د کتابتون په جوړولو سره پاي ته نه رسيږي، ځوان بايد د خپل ذوق، استعداد او مسلك له مخي په کال کي يوه کوچني رساله مونوګراف او يا کتاب هم تاليف کاندي او که چيري مالي او تخنيکي امکانات ورته اجازه ورکوي چاپ او توزيع يي کړي. د کوچني او محلي کتابتون څخه په کار اخيستلو ځوانان د سواد زده کولو د کورسونو سره هم بايد مرسته وکړي که چيري يوه ځوان په مياشت کي پنځه تنه بيسوادان با سواده کړي دا په کال کي ٦۰ تنه کيږي او په لسو کلونو کي ٦۰۰ تنو ته رسيږي

جنایات و عملکرد های زمامداران شوروی سابق و عمال وابسته به آن در قبال سرنوشت آینده جوانان آموزش دیده افغان در شوروی، اسف انگیز و نابخشودنیست

جوانان افغان که در زمان رژیم هاي وابسته به شوروي سابق براي ادامه تحصیل در موسسات آموزش عالي در شوروي سابق اعزام گردیده بودند، در شرایط کنوني با وضعیت ناگوار و اسف انگیزي بسر میبرند .

هرچند تا پیش از تجاوز مستقیم شوروي و ظهور کمونیست ها در افغانستان روابط افغانستان با کشور هاي همسایه بالاخص شوروي سابق بر اساس اصل عدم مداخله در امور یکدیگر، حسن همجواري و مناسبات نیك همسایگي استوار بود و تحصیلکرده هاي افغان با آموزش در موسسات عالي آن کشور ها بالنسبه با اندوخته هاي علمي و تخنیکي بر مي گشتند؛ اما با ظهور کمونیست ها در افغانستان، روند مناسبات رژیم هاي کمونیستي با زمامداران کریملین به طور اخص بر اساس اهداف کاملاً استراتیژیکي و منافع بیشتر و مداخلات صریح و آشکار آنکشور تغییر یافت هرگونه همکاري و مساعدت هاي کریملین به افغانستان با بهره برداري هاي سیاسي آنکشور توأم گردید. به گزارش رادیو بي بي سي در حال حاضر هزاران تحصیلکرده افغان که در موسسات عالي شوروي سابق آموزش دیده اند با سرنوشت نا معلوم در شهر هاي مختلف روسیه آواره اند و در حالت یأس کامل در نبرد زنده ماندن مصروف کار هاي شاقه اند .

حقیقت روشن است که زمامداران کریملین با در نظر داشت جهات مختلف منافع خویش در افغانستان، سیاست هاي ناکام و شکننده یي را در قبال افغانستان پیش گرفتند که منجمله وارد آوردن ضربات سنگین بر نیروي بشري و تغییر سیستم هاي عنعنوي و عدم یادگیري فرهنگ اصیل و تعلیم و تربیه اسلامي درافغانستان بود.

اعزام سالیانه صد ها تن از جوانان افغان به شوروي سابق از سوي رژیم هاي وابسته به آنکشور ، جوانان را با فقر تعالیم اسلامي و فقدان مسایل فرهنگي و کلتوري مواجه ساخت و همزمان با بحران سیاسي و نظامي در افغانستان ، بر سیستم هاي فرهنگي، اقتصادي و اجتماعي کشور نیز لطمات شدید وارد گردید .

دورنگهداشتن جوانان از فرهنگ اصیل و سجیه افغاني و اعزام آنان به شوروي ، جهت آموزش فلسفه مارکسیزم، لنینیزم جز عواملیست که در شرایط حاضر، نشانه هاي بارز و روشن آن در شهر هاي مختلف روسیه به مشاهده میرسد .

جواناني که در دوران رژیم هاي کمونیستي در شوروي سابق غرض تحصیل ایدیولوژي کمونیستي فرستاده شده بودند جز اینکه به دستفروشي و یا کار هاي شاقه بپردازند به درد دیگري نمیخورند، زیرا نه تنها اندوخته هاي ضد اسلامي و ملي آنان همچون حباب روي آب به هوا رفته است ؛ بلکه با شرایط و ساختار فعلي جامعه اسلامي افغانستان هیچگونه سازش و مناسبتي نداشته و عاري از هر گونه موثریت و ارزشمندي هاي اجتماعي مي باشد. - امید است که روزي آنها به اشتباهات خودها پي برده به آغوش پر مهر وطن اسلامي شان افغانستان برگشته و از برکت نظام اسلامي ذهنیت، روح و روانشان صیقل یافته خادم واقعي اسلام و وطن شده و مطابق اندوخته هاي علمي و مسلك خود ها در باز سازي کشور عزیز شان افغانستان سهم موثر بگیرند.

به عقیده تحلیلگران، جنایات و عملکرد هاي زمامداران شوروي سابق و اعمال وابسته به انان در افغانستان بیشتر در عرصه تعلیم و تربیه محسوس بوده و هیچ عقل سلیم نمیتواند از این واقعیت انکار ورزد .

در حال حاضر که زمامداران روسیه در تباني با سران تهران میخواهند که در کنار مداخلات نظامي در امور داخلي افغانستان ابعاد مداخلات کلتوري و فرهنگي شانرا با نقاب تازه بي توسعه بخشند، بعید به نظر میرسد که به چنین امیال ضد اسلامي شان نایل آیند، زیرا رسوایي ها و افتضاحات شوروي سابق در افغانستان، اذهان عامه، جهان را فرا گرفته و اهداف تجاوز گرانه، آن به گورستان ابدي سپرده شده است که بدون شك دیگر جاي پاي براي ادامه مداخلات روس ها و یا ایراني ها در افغانستان باقي نمانده و بهتر است تا زمامداران ایران و روسیه، جنایات بیشرمانه اسلاف شانرا در قبال افغانستان به تجربه بنشینند و بیش از این خود و حامیان شانرا به رسوایي هاي بیشتر روبرو نسازند .

اولین گروپ څارندوی

څارندویان در سال ۱۹۰۷ که تقریباً ۹۱ سال از ان میگذرد رویکار آمدند و اولین گروپ ۲۰ نفري جوانان و نوجوانان، داوطلبانه تشکل و براي تمرینات مقدماتي و کار هاي عملي و نظري طور کمپنك براي یك هفته از شهر بیرون بر آمده و پروګرام هایکه ترتیب شده بود آنرا عملي کردند و نتیجه خوب بدست آوردند بعداً آنرا در یك کتاب بنام رهنماي باي سکوت بچاپ رسانیدند . بعد از مطالعه کتاب مذکور علاقمندان زیاد څارندوي پیدا شد و بمرور زمان به تماماً کشور هاي جهان یکي پي دیگر انکشاف نمود که در کشور عزیز ما افغانستان در سال ۱۳۱۰ بنام باي سکوت شروع بفعالیت نمود و چند سال دوام کرد مگر نسبت فقدان پرسونل مسلکي از بین رفت . در سال ۱۳۳۵ نظر به توجه خاص وزارت معارف وقت و علاقمندان څارندوي دو باره در چوکات وزارت معارف ایجاد گردید. ابتدا در بین مدارس مراکز شروع بفعالیت نموده و بتاریخ ۱۹ ثور ۱۳۳٦ رسماً بنام «د افغانستان څارندوي ټولنه» افتتاح گردید و بمرور زمان در تمام مدارس مرکز، و ولایات حتي در تمام دوایر دولتي و پوهنتون کابل افتتاح گردید.

عضویت د افغانستان څارندوي ټولنه در سال ۱۳۴٤ در دفتر جهاني «باي سکوت» قبول گردید و در تماماً مدارس مرکز ولایات بنام هاي زمرك، رسګینوال و در پوهنتـون بنام «پالندوي» و در دوایر دولتي بنام «رضا کاران» با یونیفورم مخصوص څارندوي فعالیت میکردند و تعداد څارندویان به ۱۵ هزار نفر میرسید، و کمك هاي نقدي براي بودجه مالي څارندوي از طرف دولت ، شرکت ها ، تجاران ملي و انفرادي و مامورین پرداخته میشد، و همچنان از طرف دفتر بین المللي باي سکوت کمك هاي از قبیل موتر امبلانس، موتر و سامان هاي مسلکي، سامان هاي کمك هاي اولیه و تخصصي باي سکوت صورت میگرفت و همچنان یك تعداد زیاد استادان و طلاب څارندوي براي تحصیل و کورسهاي څارندوي به کشورهاي خارجي معرفي و اعزام میشدند.

وقتیکه کودتاي کمونیستي در کشور عزیز ما رخ داد تمام سامان و لوازم و دارائي هاي که از څارندوي در بانك ملي و پشتني تجارتي موجود بود از بین برده شد ، از اینکه څارندویها در بین همشهریان یك نام نیك و روش خوب داشتند نام څارندوي را بالاي پولیس وقت گذاشته و یك تعداد جوانان و نوجوانان را بنام «پیش آهنگ» جمع نموده و آنها را تحت تربیه به سیستم کمونیستي گرفته و آماده فعالیت ساختند . که در امور سیاست هم مداخله و فعالیت کنند بعد از به میان آمدن امارت اسلامي وزارت معارف بار دیگر افغانستان څارندوي ټولنه را در چوکات وزارت معارف به تاریخ ۱۳۷٦/٥/۱٥ در مدرسه عالي استقلال افتتاح نموده و ریاست «د افغانستان څارندوي ټولنه» وظایف خود را موفقاً تا حال انجام داده است و در اکثر مدارس مراکز بنام هاي زمرك و تیګینوال تأسیس نموده که فعالیت هاي شان در داخل مدارس، خارج مدارس و بروز هاي جمعه در مساجد به همکاري و هدایات مولوي صاحبان مساجد کار میکنند. ناگفته نباید گذاشت که ریاست د افغانستان څارندوي ټولنه در نظر دارد که کورسهاي قرائت قرآن مجید ، تفسیر شریف و همچنان سیمینار هاي ترافیك، اطفائیه سره میاشت، کمك هاي اولیه ، زراعت، اقسام سپورت ها ، مبارزه با مواد مخدره وکنترول قیمه بهدایت کابل ښاروالي وغیره دایر نماید .

ځوانان په ټولنه کښې

هر ځوان له ځانه سره لوړي هيلي لري. د ځواني دوران په انسان کښي هغه توان پيدا کولي شي چي هر څه وغواړي هغه تر سره کړي . اميدونه يي ډير وي هيلي يي لوړي وي ، زړه يي ډير څه غواړي. ځوانان کولي شي چي ټولني ته نوي رنګ ورکړي . بدلونونه يکي راو لي. که په ژور نظر ورته وګورو ځوانان د ټولني د ښو او بدو اخلاقو د راوستلو چوګه دي . ټولنه د ځوانانو ښو او ښو اخلاقو ته زيات ضرورت لري. همدغه ځوانان دي چي هيواد يي په ښو ودانيږي . علم او ادب ته پراختيا ورکولي شي .

د هيواد اقتصاد په پښو دروليږ شي. ځکه د ځوانانو حوصله زياته وي توان لري چي هغه څه وکړي کوم چي ورته ضرّت وي . نو هر ځوان ته ضرور ده چي د ښو اخلاقوء علم او ادب خواته ګامونه واخلي . په ټولنه کي د بدو لارو او بدو اخلاقو مخه ونيسي او د هغي مخه نيول د هر ځوان په قدرت کښي راتلاي شي ځکه دا ځوانان دي چي ټولني ته بدلون ورکولي شي که هر ځوان په ځان کښي دا توان په کار واچوي چي خپل ژوند په ښو اخلاقو او نيکو خويو نو سمبال او خپله ټولنه نيکمرغه او خوشاله کړي .

ځوانان په ټولنه کښي دعصابو په څير دي که څومره عصاب فعاله وي دغومره به د وجود هر غړي ښه فعاله وظيفه سر ته ورسوي او که څومره عصاب ضعيف وي دغومره به د وجود د غړيو وظيفي کمزوري وي. له همدي کبله ځوانان بايد کوشش وکړي چي ټولنه د نيکمرغي او خوشحالي خواته نوره پر مخ بوزي او خپله ټولنه له علم فرهنګ، ادب، اقتصاد او داسي نورو اهمو څيزو څخه برخمنه کړي .

داکتر باز محمد

جوانان از چگونه محاسن باید برخوردار باشند؟

از نظر جامعه شناسي موقعیت و موقف جوانان در ردیف اول قرار میگیرد، زیرا جوانان نیروي سرشار و وارثان حال و اینده جوامع بشري بشمار میروند از نظر ترکیب افراد جوانان را میتوان بخش جدا نا پذیر جامعه دانست . دوره جواني را باید حدو ارتباط تسلسل نسل هاي فعلي و آینده ارزیابي نمود. جوانان و نوجوانان باید از بي تفاوتي و غفلت نسبت به حال مردم و وطن برحذر باشند یقیناً گرایش ها ، مود پرستي و شکل ارائي جوانان را بسوي بدبختي و سیاه روزي مي کشاند . مشکلات و وضع اسف انگیز و رقت بار میهن عزیز ما جوانان را به کار و مبارزه همگاني مي طلبد جوانانیکه بي علم و بیسواد باشند طوریکه لازم است بدرد جامعه نمي خورند و کاري از آنها ساخته نیست . براي پیشرفت و ترقي یك کشور به رجال تربیت یافته و کار آگاه ضرورت است و البته نسل جوان در قدم نخستین در صدر این رجال قرار داشته است . آموزش و پرورش جوانان بایست توأم با تغیر شخصیت و اخلاق نیکو باشد نه اینکه محض آموزش یا آموزش بخاطر آموزش. تحصیلات و آموزش جوانان کشور ما بایست متوازن بوده و سازگار با عقاید دیني و ایجابات عیني زمان و مکان باشد و با تغییرات محیط و مکان توافق داشته باشد. اگر آموزش و تحصیل منجر به تغییرات مثبت در جوانان نگردد و جوانان خود را تغیر ندهند هرگز در محیط زنده گي تحول مثبت بوجود نخواهد آمد . یکي از ویژه گي هاي مهم جوانان تحولات و دگرگوني هاي جسمي و رواني در آنها میباشد. آنانیکه جوانان را فاقد خوبیهاي اخلاقي و سلامت رواني و جسمي ، تنگ نظر و بزدل ببار مي آورند در حقیقت دشمنان جامعه اند. جوانانیکه از اصول تربیت عالي و اخلاق نیکو برخوردار باشند بدون شك در کمترین فرصت جامعه را بپاي و نیروي خودش متکي ساخته و زمینه ترقي و تعالي را برایش مي کشاند.

آري ! این جوان ها اند که باید کار کنند و چرخ هاي امور مملکت را به پیش برانند. براي بدست آوردن سعادت و نیك بختي تنها سیستم تعلیم و تربیه کافي نیست بلکه همزمان به تعلیم و تربیت فرا گرفتن سیاست و پیدا نمودن تفکر و جهان بیني و سیع نیز از نیازمندي هاي مبرم براي نسل جوان بحساب مي آید. از آنجا که در مثلث تربیتي نقش و رسالت خانواده نیز مهم است والدین باید از همان دوران کودکي متوجه اخلاق و تربیت سالم فرزندان خود بوده و ایشان را طوري آموزش و پرورش دهند که در انجام وظایف و رسالت هاي آینده خویش موفق بوده باشند . امیدواریم که نسل جوان ما در احیاي مجدد میهن دوست داشتني خویش مکلفیت اخلاقي و تاریخي شان را ادا نمایند.

د افغانستان د اسلامي امارت د کانونو او ...

کار په نتیجه کې برابر کړې وو . او دوې ډېر تعجب وکړ چې د افغانستان په دې جنګي او ګډوډ حالت کې تاسو دومره قیمتي راپوروټه سره راټول او د کار کولو لپاره مو چمتو کړل . او دغه راز د یونیکال د تیلو شرکت وعده وکړه چې مونږ به خپل مرکزي دفتر په دې خبر وو چې په افغانستان کې د ډېرو تیلو او ګازو د زېرمو امکان موجود دې چې ددې پلټنه او استخراج به د نورو هیوادونو په پرتله زیات اقتصادي او آسان وي هغه ځکه چې په اکثره ملکونو کې نفت او ګاز په ابوکي راووځي خو په افغانستان کې په وچه کې موندل کیږي چې ټول هغه لومړني لګښتونه چې په مقدماتي توګه په بحر کې په کار دي سپمول کیږي .

دوېي وعده وکړه چې د راپوروټو تر دقیق څېړني وروسته به موږ د افغانستان د تیلو ملي موسسې سره یو ځای په ګډه په ساحه کې عملي کار پیل کړي .

محترم الحاج مولوي احمد جان د شریعت اوونیزې د خبریال ددې پوښتني په ځواب کې چې د یونیکال له شرکت سره د ګډ کار کولو د قرار داد د لاسلیك څه تصمیم لري او که نه ؟ داسې وویل : موږ له هر هغه کورني او بهرني شرکت سره چې په افغانستان کې د بیا احیا او په خاصه توګه د نفت او ګازو په پلټنه او استخراج کې له موږ سره مرسته کوي د خپلو اصولو په رڼا کې لاس لیك او تړون ته تیار یو .

د کانونو او صنایعو د وزارت سرپرست ددې پوښتني په ځواب کې چې د تیلو او ګازو د استخراج لپاره خو یو زیات شمیر فني او مسلکي کسانو ته ضرورت وي تاسو په دې هکله څه اقدام کړی دی ؟ داسې وویل : داسې ده چې مسلکي او فني کسانو ته ضرورت وي خو الحمد لله د افغانستان په بیلابیلو ولایتونو کې چې په کورونو کې یو زیات شمیر فني، مسلکي او پوه کسان ناست و دوې په ډېر اخلاص او صداقت له موږ سره ژمنه کړېده چې موږ به د خپل ګران هیواد افغانستان د بیا جوړولو په کار کې د ژوند تر وروستي سلګي خدمت ته دوام ورکړو .

همدا راز په بهر کې افغاني پوهانو او انجنیرانو موږ سره وعدې کړې دي چې کله په ګران افغانستان کې د تیلو او ګازو د استخراج کار پیل شو نو پرته له څه مادي امتیاز نه موږ خپل ټاټوبي افغانستان ته د خدمت کولو لپاره درځو .

همدا راز عالیقدر امیر المؤمنین وعده راکړې ده چې هر هغه کار چې د افغانستان د ابادۍ او احیا لپاره تر سره کیږي موږ به د خپل توان په اندازه ورسره مالي مرستي او همکاري کوو .

په هند کې د ایډز د مریضانو تعداد تر ۵۰ لکه زیات شویدي

(کې پي آی) په هندوستان کښې د ایډز مرض په تیزي خپریږي. د هندوستان د صحت د تنظیم سکرتر جنرال ډاکټر آی ګل دا په پونا کښې د ایډز په هکله په یوه سیمینار کښې وویل : په هندوستان کښې د ایډز د ویروس هیڅ دوا نشته . هغه وویل په هندوستان کښې د صحت وزارت هڅه کړې چې د ایډز د مرض مخه ونیسي مګر تر هر څه مخکې د عوامو خبرول ضرور دي . هغه وویل په هندوستان کښې د ایډز د مرض بنیادي وجه جنسي کار و بار دی د کوم له کبله چې زیات خلك د ایډز په مرض اخته کیږي. دا خبره یاد لري چې په هندوستان کښې د ایډز مریضان تر ۵۰ لکه زیات شویدي هغه زیاته کړه چې د مهاراشترا په ایالت او د بمبي په ښار کښې د ایډز د خپریدو بنیادي وجه هغه طایفې دي کوم چې په جنسي کارو بار کې مصروف دي او هغوي هره ورځ زیات انسانان د ایډز په مرض اخته کوي .

د یو بل خبر له مخې تیره هفته په زمبابې کې د ایډز د مرض له کبله تر ۵۰۰ زیات انسانان مړه شول حکومت ویلي دي چې د ایډز د مرض له کبله تا ځایې مرګونه زیات شوي او دوې نوري مړده خاني به ورته جوړي کړو. د صحت وزیر ایس تمپس تموتي پارلمان ته وویل چې په تیره هفته کښې د ایډز د مرض له کبله تر ۵۰۰ زیات انسانان مړه شول او په مړده خانو کښې د مړیو د کیښودلو ځای نشته مړي یو په بل سره پراته دي . یاد ولرئ چې ددې هیواد ټول نفوس یو سل او لس لکه دي چې په هغه کښې شل لکه انسانان د ایډز په مرض اخته دي .

د یو بل راپور له مخې د ایډز څخه متاثره ۹۰ فیصد پیدا شوي ماشومان د ٤ او ٦ میاشتو په عمر تشخیص کیږي . دا خبره د اینس پوهنتون تحقیق کونکیو کړېده .

د اینس د پوهنتون د ایډز د پروګرام مشر داکټر کینټ ویلي دي چې په تیر کال کې د ماشومانو د ایډز تشخیص کول او علاج کول مثبت واقع شوي دي هغه په همدغه خبر ټینګار کړیدي چې د ایډز د مرض ماشومان باید ژر تر ژره تشخیص شي. ډاکټر رچ وویل په امریکا کښې هر کال د ایډز په مرض اخته له ۷۰۰۰ سڅو څخه ماشومان پیدا کیږي او په هغو کښې ۲۵ فیصده د ایډز وایرس ماشومانو ته انتقالیږي .

د بغلان ولایت د مرکزي جبهې د نظامي چارو مرستیال ...

راغلیو ترانسپورتي لارو کې ستونزې او موانع موجود دي . همدا راز د مخالفینو لخوا د بې حده بې پښتوانې بانکتوټونو چاپولو هم د خلکو ژوند له کړ او سره مخ کړیدي .

محلي تولیدات په بغلان کې مناسب قیمت لري او د غیر محلي تولیداتو قیمت ډېرلوړ دي .

پوښتنه : ستاسې د جګړې لومړي کرښې په کومو کومو ځایو کې واقع دي ؟ او ویلې شي چې څومره سیمه ستاسې تر کنترول لاندې ده ؟

ځواب : زمونږ د جبهې لومړي کرښه سهیل خواته د پوزه ایشان ختیځ خواته د نهرین ولسوالي ... پورې ده . تقریباً ۱۰۰-۱۲۰ کیلو متره ساحه زمونږ تر کنترول لاندې ده .

پوښتنه : د بغلان په ولایت کې د مجاهدینو مورال څه ډول دي ؟

ځواب : [illegible] زمونږ مجاهدین لوړ جنګي مورال لري او تل یې دښمن ته [illegible] ماتوونکي ځواب ورکړیدي خو زمونږ مخالفین هیڅ مورال نه لري او مشران یې غواړي چې د خپلو افرادو د مورال د لوړولو لپاره هر وخت له تبلیغاتي کمپاین نه لاس واخلي .

پوښتنه : کابل ته ستاسو د راتللو هدف څه شی دی ؟

ځواب : کابل ته زمونږ له راتللو نه هدف د اسلامي امارت له مشرانو سره ملاقات د بغلان د عمومي وضعي وضاحت او د راتلونکو پروګرامونو او مسؤولینو ترتیب او تنظیم دي .

پوښتنه : تاسې خپل اکمالات له کومې لارې کوئ ؟

ځواب : زمونږ اکمالات په نظامي برخه په هغو غنایمو متکي دي چې د نجیب د ګوډاګي رژیم څخه مو په غنیمت نیولي دي او اقتصادي اکمال مو په محلي عوایدو متکي دي .

پوښتنه : د بغلان په ولایت کې د اسلامي تحریك راتلونکي څه ډول ارزیابي کوئ ؟

ځواب : د بغلان ولایت خلك مجاهد، دینداره او مؤمن خلك دي او د اسلامي نظام حاکمیت لپاره یې جهاد کړیدي او دا چې زمونږ د جهاد سپېڅلي اهداف د طالبانو د اسلامي تحریك راژوندي کړل او د دوې اهدافو تحفظ یې وکړ نو په همدې خاطر ټول خلك زمونږ تر څنګ ولاړ دي او د اسلامي تحریك حمایت کوي .

پوښتنه : د بغلان په ولایت کې یوازې پخواني مجاهدین حالات کنترولوي او که طالبان هم شته ؟

ځواب : تاسو ته معلومه ده چې د بغلان ولایت مجاهدین په پوره ایمانداري او غیرت د غاصبو او فاسدو ډلو په مقابل کې وجنګیدل او اوس هم د هیواد د دښمنانو او ایمان فروشه عناصرو په مقابل کې په مقاومت کوي. چې همدا اوس یې په خپله میړانه د دسمنانو دسیسې شنډې کړلي او د هیواد د ویش مخه یې نیولې ده مونږ د بغلان ولایت مجاهدین کافي بشري او تخنیکي قوت لرو چې له نورو ولایاتو سره هم د ضرورت په وخت مرسته کولی شو نو مونږ په زغرده ویلی شو چې محلي مجاهدین د اسلامي تحریك تر مستقیم زعامت لاندې په حالاتو پوره کنترول لري .

یکتعداد سلاح و مهمات ...

هاوان وسط با ٤١ صندوق مرمي، یك قبضه راکت انداز با پنجاه فیر مرمي آن ، چهل عدد ماین و ۹۲ فیر مرمي راکت آر، پي ، جي را به قوماندانی امنیه آن ولسوالي تسلیم نموده آماده گي اش را در جهت دفاع از دست آورد هاي امارت اسلامي افغانستان ابراز نمود. در مقابل محترم مولوي نور الله ولسوال آنجا از احساس نیك و اقدام اسلامي مذکور قدر داني نمود.

قرار یك خبر دیگر یك میل صد تکه، یك میل تفنگچه پانزده عدد مرمي راکت از یکي از محلات مسکوني جاجي میدان خوست بدست موظفین فرقه ۲۵ پیاده افتیده قضیه تحت تحقیق قرار دارد .

به طول هشتاد و پنج کیلو ...

یك منبع مربوط به آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : به اثر توجه مسوولین ولایت و با استفاده از تسهیلات امارت اسلامي افغانستان و همکاري اهالي مسلمان ولایت زابل سرك قریه ماري تا به میانه شین ولسوالي داي چوپان به طول شصت کیلو متر سرك مرکز ولسوالي الي منطقه حیرو به طول ۱۵ کیلو متر و سرك مرکز ولسوالي الي منطقه سینان به طول ده کیلو متر جغل اندازي و هموار کاري گردیده و به استفاده اهالي آنجا قرار گرفته است .

د چین د خفیه ایجنسي ...

د کلنټن حمایت کونکیو دا تور رد کړیده . د خبر په مطابق مونجار ریډي په اصل کښي چیني نژاده ده او له چین سره د هغه تجارتي ګټې تړلي دي .

به اساس هدایت عالیقدر ...

محمد بحیث منتظم آن مدرسه و عده از علما جید به صفت استاد مدرسه متذکره تعین گردیدند .

یو ځوان سرې خوړونکي ...

سرې خړونکي ځوان ونیول چې د بوډا سړي غوسه یې خوړله او لاس او خوله یې په وینو سره وو . پولیسو ویلې دي چې همدغه ځوان مخکښې یو سپي هم خوړلې دی .

امریکا د نړۍ د بداخلاقو ...

خلکو کښي ۹۰ فیصده هغه خلك دي چې تا مکمل ریوټ لري او په غلطه یې کاغذان جوړ کړیدي .

خبر زیاتوي چې د کلنټن دیموکراتیك حکومت ددې لپاره په دغه کار لاس پورې کړ تر څو په انتخاباتو کښې د ځان لپاره زیات وټونه ګټي .

بخاطر گرامیداشت و ...

قبل در ولسوالي رستاق ولایت تخار بوقوع پیوست صحبت هاي همه جانبه نموده در شرایط کنوني آنرا یك آزمون بزرگ الهي براي مسلمانان دانستند و از مردم متدین افغانستان تقاضا نمودند تا از این حادثه دلخراش که سبب قرباني هزاران تن هموطن مسلمان ما اعم از خورد و بزرگ و انهدام هزار ها باب منزل مسکوني و خسارات مالي هنگفتي گردید درس عبرت گرفته و با رجوع کامل بخداوند«ج» و با تقوا و پرهیزگاري در جهت تحکیم پایه هاي نظام اسلامي کار و تلاش نموده وحدت و یکپارچگي خویش را حفظ نمایند.

طبق یك خبر دیگر به همین مناسبت مراسم فاتحه خواني از طرف قونسلگري امارت اسلامي افغانستان در پشاور پاکستان نیز بر گذار گردید .

در این مراسم که تعدادي از مسوولین امارت اسلامي افغانستان حاضر بودند محترم مولوي محمد مسلم (حقاني) معین وزارت ارشاد و اوقاف و محترم مولوي نجیب الله قونسل امارت اسلامي در پشاور در رابطه به وقوع زلزله و تلفات جاني و خسارات مالي ناشي از آن صحبت نموده ضمن اتحاف ادعیه به روان پاك قربانیان همدردي و تسلیت خویشرا به باز مانده گان آنها ابراز داشتند در این مراسم فاتحه خواني محترم حاجي کشر گل به نماینده گي از تجار افغاني و محترم قاضي محمد امین وقاد و جمع کثیري از افغان هاي مهاجر پشاور اشتراك ورزیده بودند

چین یو ځل بیا پر عراق د ...

له نورو مصیبتونو سره مخامخ شي. له همدې ځایه ده چې د چین یو لوړ رتبه پلاوي متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ او پر عراق یې د امریکې د پوځي برید د ګواښ په اړه خبرداري ورکړ چینایي پلاوي په متحده عربي اماراتو کې د عراق له سفیر سره هم خبري کړي .

ګڼو هیوادونو پر عراق د امریکې د پوځي برید په اړه د مخالفت څرګندونې کړې او سعودي عربستان اعلان کړی چې امریکې ته به دا اجازه ورنه کړي چې د عراق پر خلاف د برید لپاره د سعودي عربستان له اډونه ګټه پورته کړي .

پخپله غربي هیوادونو هم د عراق پر خلاف د پوځي عملیاتو مخالفت کړی او دا کار یې د یوې بلې نړیوالې او اتومي جګړې خطر ګڼلی دی .

هالینډ ته د جنسي ...

ښځو د حقوقو د تیرې وېره را منځ ته کړې وي !! زمونږ په فکر هالینډي سیاستوال به دا غوښتنه په طنز سره کړې وي او دومره لوېدلې شخصیت به نه وي چې خپل هیواد ته د فحاشي لپاره د بل هیواد څوك راوبولي خو که د ښځو د حقوقو مدعیان داسې غوښتنه او بلنه د نورو سره د حقوقو دفاع او ملاتړ وګڼي زمونږ تعبیر له خوش باوري پرته بل څه نشي ګڼل کیدای .

د شریعت تبصره

د سلواغې ۲٦ مه د روسي له سره پوځ څخه د افغان د مسلمان ولس د خلاصون ورځ

روسانو په ډېره بې شرمي سره د نړیوالو اصولو او د ملګرو ملتونو د منشور په خلاف د خپلې لوېې غوښتني د سیاست له امله او ظاهراً د څو وطن پلورونکو عناصرو د غوښتني پلمه د ۱۳۵۸ هـ ش کال د مرغومي د میاشتي په شپږم ماښام نژدې ۱۵۰ زره پوځیان افغانستان ته را ننویستل او په افغانستان کې یې هغه رنګ پوځي حمله وکړه چې په ۱۹٦۸ م کال کې یې په چکوسلواکیا کړې وه په افغانستان باندې د روسانو ددې حملې سره جوخت روسانو د غدار کارمل یا دوهم شاه شجاع له پاره داسې تبلیغ پیل کړ چې له بو خوا کارمل د افغانستان د خلکو یوازېنی غمخور او غمشریك لاربښود وښیې او له بل پلوه یې په افغانستان کې په داسې نظامي تحکیماتو پیل وکړ چې د خپل ستراتژیك هدف د تر لاسه کولو له پاره چې هغه د هند سمندر ته ځان رسول و ډاډمن سنګر جوړ کړي او ددې په څنګ کې یې ځیني نور تاکتیکي اهداف هم درلودل . روسانو په ډیرلږ وخت کې د افغانستان د اکثرو ولایاتو مرکزونه او ټولې لوېې لارې تر خپل کنټرول لاندې راوستلې او هم یې ټول دولتي تشکیلات تر خپل نظارت لاندې ونیول او هیچا دا حق نه درلوده چې د روسیې د مشاور له مشورې پرته یو مدیر هم مقرر کړي او هم روسان د خپلو پراخو پلانونو د عملي کولو له پاره په دې هڅه کې شول چې د افغانستان د خلکو سیاسي ، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي چارې په غوځ ډول په خپله ګټه په خپل انحصار کې وساتي او د کمونیزم نغارې ته لا زور ورکړي د دا ډول حالت په را منځته کیدو سره د افغانستان مسلمان او اصیل بچیان په دې پوه شول چې روسان هم د انګریزانو په څېر په خپله محاسبه کې تیر وتلي دي او سمدستي یې د روسي پوځ څخه د ځان او وطن د نجات له پاره سره غوزونه نژدې کړل او د خپلو مؤمنو او مجاهدو پلرونو په څېر روسي یرغلګرو ته هم سره یو موټي شول او جهادي بهیر ته یې لا چټکتیا ورکړله .

روسان د وخت په تیریدلو سره په دې پوه شول چې :« د دوي وړې نه شړي کیږي » سره له دې چې دوي په شمال کې د احمد شاه مسعود سره د مخکینیو خبرو او تړو نونو له امله ډاډه وو خو بیا هم په ټولو محاذونو کې د افغانستان د ننګیالیو مجاهدینو په وړاندې د سختې ماتې سره مخامخ و او د هرې ورځې په تیریدلو سره د روسي عسکرو په لسګونه مړي یې د الوتکو په وسیله روسیې ته وړل چې دغه کار په خپله د روسانو کرکه راوپاروله . ګرباچف د خپلې سیاسي هوښیارتیا تر پردې لاندې کارمل له قدرت نه لیرې کړ او د وخت د خاد رئیس ډاکټر نجیب الله یې را د مخه کړ او هغه ته یې د ملي روغې جوړې سندره په خوله کې کیښودله . له دغه کار نه د میخائیل ګرباچف هدف دا و چې له یوې خوا روسان په دې باوري کړي چې د روسي سیاست د افغانستان په وړاندې تغییر موندلی او د بلې خوا په خپله د افغانانو په منځکې داسې ورزور واچوي چې د روسانو د وتلو په وخت کې افغان مجاهد یو ځای په روسانو حملې ونه کړي په دغه وخت کې روسان په پوځي ډګر کې د افغاني مجاهدینو د ورځ په ورځ پیاوړتیا او بریالیتوب له امله سخت په ویره کې شول او په دې پوه شول چې په خپله محاسبه کې یې سخته اشتباه کړې ده نو کوښښ یې کاوه چې د سیاسي حل له لارې نه د خپلو وتلو له پاره یوه لاره پیدا کړي اوپه دغه ډول ځانته د خپلې غوڅې ماتې د پټولو لپاره داوړو پوزه کیږدي دا سمه ده چې د ۱۳٦۷ هـ ش کال د حمل په میاشت کې د ژنیو موافقه لاسلیك شوه او په دغه ډول د روسانو وتل د ۱۳٦۷ هـ ش کال د سلواغې ۲٦ مه پورې ومنل شول، خو اصلي خبره په خپله د افغاني مجاهدینو زور و چې روسان یې دیته اړ کړل چې د سلواغې په ۲٦ مه له افغانستان څخه پښې وباسي. روسان د سلواغې په ۲٦ مه په افغانستان کې غوڅې تاریخي ماتې له امله ډېر د نا امیدۍ سره د حیرتان د بندر له لارې په بشپړ ډول چې وروستي تن یې د سره پوځ قوماندان جنرال ګروموف و، ووتل ، خو د روسانو په وتلو سره بیا هم د ډاکټر نجیب الله کمونستي رژیم چې د روسیې له مرستو څخه کاملاً برخمن و پاتې شو، خو د لوې خدای«ج» په نصرت هغه د مجاهدینو په وړاندې په ګونډو شو او په افغانستان کې اسلامي نظام ټینګ شو روسانو د خپلو ګوډاګیانو چې په سر کې یې احمد شاه مسعود و بیا هم د افغانانو په منځکې خپل منځي جګړو ته لمن وهله او د مجاهدینو د اسلامي نظام د ټینګښت هیلې او ارمانونه یې سبوتاژ کړل خو په دغه وخت کې د روسانو او نورو افغان دښمنه ځواکونو د لاس وهنې د بندولو لپاره یو شمیر اصیل مجاهدین په هیواد کې د یو سوچه اسلامي نظام د ټینګیدو له پاره د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك په مشرۍ سره یو ځای شول او دلوي خدای په نصرت نن د هیواد دوه په درې برخه خاوره کې یې اسلامي شریعت نافذ کړي او سوله یې تأمین کړې ده او انشاء الله چې هغه ورځ لیرې نه ده چې د پخوا په څیر به بیا هم د روسانو او نور افغان دښمنه ځواکونو ټولې دسیسې شنډې او د تاریخي تور مخي سره به یې مخامخ کړي او په ټول هیواد کې به اسلامي شریعت نافذ او سوله تأمین کړي .

SHARIAT
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Govt. Printing Press

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چې دا دول سپېڅلي پاڼې په ناوړو ځایونو کښې وغورځوئ.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300